مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

یونس نگاه

۱۷ / ۰۳ / ۲۰۲۶

# د واک د حدودو پر سر جګړه

په ۲۰۱۸ کال کې، پاکستان قبایلي سیمې له نیمه خودمختارۍ حالت څخه وایستلې او په رسمي ډول یې له خیبر پښتونخوا سره یوځای کړې. په افغانستان کې د طالبانو د امارت په جوړېدو سره، زموږ هېواد اوس د پاکستان په سیاست کې د قبایلي سیمو ځای موندلی دی. پاکستان د افغانستان لپاره نیمه خپلواک حیثیت غواړي؛ خو د طالبانو مشران بیا د واک د حدودو پر سر په داسې یوې شخړې بوخت دي، لکه له ۲۰۱۸ کال څخه وړاندې چې د ډیورنډ کرښې هاخوا قبایلي مشرانو کوله.

پاکستان هڅه کوي چې د طالبانو د امارت نیمه خپلواک وضعیت د رسمي ادغام لور ته بوځي؛ ترڅو لومړی د افغان-پاک کنفدراسیون او بیا یو ګډ قلمرو (پاک ـ افغان سرزمین) رامنځته کړي. مګر طالبان هڅه کوي چې کورواکي (خودمختاري) وساتي او که په راتلونکي کې فرصت برابر شي، خپلواکي اعلان کړي.

خو د خپلواکۍ ترلاسه کولو لپاره د طالبانو د وړتیا او حتی د هغوی د ارادې په اړه جدي شکونه شته. طالبان په عملي توګه د افغانستان ملي ریښې پرې کوي او ټول ملي سمبولونه، بنسټونه او ارزښتونه؛ له بیرغ، ملي سرود او اساسي قانون څخه نیولې تر تعلیمي سیسټم، موسیقۍ او کلتور پورې ټول ځپي.

کلتوري او قومي تنوع، منځنۍ طبقه، لوستي خلک، نړیوالې اړیکې، زده کړې، مدني آزادۍ، د ښځو فعال ټولنیز شتون او د سیاسي فعالیت حق (ګوند او ټولنې جوړول) د ملت جوړونې او دولت جوړونې بنسټیز توکي (خام مواد) دي. طالبان دا ټول غیراسلامي بولي او د افغانستان لپاره داسې نسخه وړاندې کوي چې پایله یې د پاکستان تر سیوري لاندې د قبایلي سیمو کچې ته د هېواد راټیټول دي.



آرشیف: نو یسنده در پورتال افغان جرمن آنلاین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ